
هفته واره رساله

# د سیّده فاطمةُ الزّهرا رَضِیَ اللہُ عَنْھا فیضان

(پښتو)



په انساني شکل کښې خوره

د مینې ډک منظر

دعا قبلیږي

د لسو بیبیانو قصه

اَلۡـحَمۡـدُ لِـلّٰهِ رَبِّ الۡـعٰـلَـمِيۡنَ وَ الـصَّـلٰوةُ وَالـسَّـلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعۡدُ فَـاَعُوۡذُ بِـالـلّٰـهِ مِنَ الـشَّيۡطٰنِ الـرَّجِيۡم ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم ط

# د سيّده فاطِـمةُ الـزَهرا رَضِیَ اللہُ عَنۡہا فيضان

## د دُرُود شريف فضيلت

يو ځل يو سوالګيري د کافرانو نه سوال وکړو، هغوئي د خندا پۀ طور هغۀ د امير المُؤمِنين حضرت مولائے کائنات، عليِّ المُرتضیٰ شير خدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خوا له وليږلو کوم چې مخامخ تشريف فرما وو، هغۀ حاضر شو او د سوال دپاره يې ورته لاس ونيوو، حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ **10** کرته درود شريف ولوستلو او د هغه پۀ ورغوي(تلي) يې ورچپ کړو او اوئې فرمائيل، موټے بند کړه او کومو خلقو چې راليږلے يې د هغوئي پۀ مخکښې يې کولاو کړه- (کافرانو خاندل چې صرف پۀ چپ کولو باندې څۀ کيږي!) خو چې کله سوالګيرے لاړو او د هغوئي پۀ مخکښې يې موټے کولاو کړو نو هغه د سرو زرو د دينارونو نه ډک وو! دا کرامت چې يې وليدو نو ډير کافران مسلمانان شول- (راحَتُ القلوب، ص142)

ورد جس نے کیا دُرود شریف | اور دل سے پڑھا دُرود شریف
حاجتیں سب رَوا ہوئیں اُس کی | ہے عجَب کیمیا دُرود شریف

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکۍ د دعوت عظيمه جذبه

د ګونينو د شهزادګۍ، د حَسَنَينو د مور، سيّده طيِّبه، طاهِره، عابِده، زاهده، حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا خوږ بابا جان، د حسنين کريمين خوږ نيکه بابا جان،

د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت مولٰی علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھا خوا له تشريف راوړلو نو هغوئي ورته په دروازه باندې هرکلے ووئيلو او بيا د هغوئي په ليدلو په ژړا شوه- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې ترينه د ژړا د وجهې پوښتنه وکړه نو عرض يـې وکړو: زۀ ستاسو رنګ بدل او تاسو په تکليف کښې وينم- د حسنينِ کريمين نيکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: اے فاطِمه! الله پاک ستا والد د يو داسې کار د پاره راليږلے دے د کوم نه چې به په مخ د زمکه باندې دښار يا د کلي يو کور هم هم نۀ بچ کيږي خوالله پاک به ستا د والد په ذريعه دا کار (يعني دِينِ اِسلام) د عزت سره رسوي، دا دِين به هغه ځائے پورې رَسي تر کوم ځائے پورې چې شپه رسي-

(معجم کبير، 22/225، حديث: 595)

ظُلم، کُفّار کے ہنس کے سہتے رہے | پھر بھی ہر آن حق بات کہتے رہے
کتنی محنت سے کی تم نے تبلیغِ دیں | تم پہ ہر دم کروڑوں دُرُود و سلام

(وسائلِ بخشش، ص 603، 604)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

**اے د صحابۀ کرامو او د اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم عاشقانو!** زمونږه خوږ اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِينِ اِسلام پيغام ډير په مشقت سره عام کړو، په دې واقعه کښې د کوڼينو د شهزادګۍ حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھا د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په محبت کښې د زړيدو بيان هم موجود دے- حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھا د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډيره نيازبينه او د ټولو نه کشره شهزادګۍ ده- د هغې د نورو دريو خوئيندو مبارکو نومونه دي: حضرت بي بي زينب، حضرت بي بي رُقَيَّه او حضرت بي بي اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُنَّ-

# ولادت شریف

د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہانوم مبارک " فاطِمه" دے- اِمام عبدُ الرَّحمان اِبنِ جَوزي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د نُبُوَّت د اِعلان نه 5 کاله مخکښې حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہادُنیا ته تشریف راوړلو- (شرح الزرقانی علی المواہب، 331/4)

حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہاچې کله دُنیا ته تشریف راوړلو نو د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہاد مخ مبارک په نُور باندې ټوله فضا روښانه شوه- (الروض الفائق، ص274، ملخصاً)

صحابيِ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې زما مور بي بي فرمائي: " کَانَتْ کَالْقَمَرِ لَیْلَةِ الْبَدْرِ یعني حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہاد څوارلسمي د سپوږمۍ په شان ښائسته وه-" (مستدرک للحاکم، 149/4، حدیث:4813)

# د نوم مبارک نسبت او یو څو مشهور لقبونه

اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عاشقانو! فاطِمه " د فَطِمَ" نه جوړ شوےدے، د کوم مطلب چې دے: " لرې کیدل"- الله پاک د کونینو شهزادګۍ حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا، د هغې اولاد او د هغې سره محبت کوونکي د دوزخ د وور نه لرې کړې دي ځکه د کونینو د شهزادګۍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا نوم "فاطِمه" شو-

د هغې ډیر لقبونه دي، د "بَتول" معنیٰ ده: مُنقَطع کیدل، جُدا کیدل، حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہاپه دُنیا کښې د اوسیدو باوجود هم د دُنیا نه جُداوه، چرې یې هم په دُنیا کښې زړهٔ نهٔ وو لګولےځکه یې بتول لقب شو، د "زهَرا" مطلب دے: غوټۍ، حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا" د جنَّت غوټۍ" وه، د هغې د مبارک وجود نه به د جنَّت خوشبوئي راتلله، کومه چې به حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بوئي کوله، ځکه د کونینو د شهزادګۍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا لقب " زَهرا" شو- (مرأۃ المناجیح، 452/8، 453 ملخصاً)

بَتُول وفاطمہ، زَہرا لقب اِس واسطے پایا
کہ دُنیا میں رہیں اور دیں پتہ جنّت کی نِکہت کا

(دیوانِ سالِک، ص33)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عقیدت

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ يو ځل د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا خوا له لاړو نو اوئې فرمائيل: اے فاطِمه! پهٔ الله پاک باندې مې دې قسم وي! ماڅوک هم ستاسو نه زيات د حُضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبوب(خوښ) اونه ليدل او پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! ستاسو د والدِ محترم نه پس پهٔ خلقو کښې څوک هم ستاسو نه زيات ما ته ګران او خوښ نهٔ دے-

(مستدرک للحاکم، 139/4، حدیث:4789)

اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم عاشقانو! د حضرت بي بي فاطمـةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پهٔ شان او عظمت باندې ډير حديثونه مبارک موجود دي، د برکت حاصلولو د پاره يو څو وړاندې کولے شي:

د ''فاطِمه'' د پنځوحرفونو پهٔ نسبت سره د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 5 فرامين مبارک-

## ﴾1﴿ د سيِّده سره محبت کوونکي د دوزخ نه ازاد دي

''اِنَّمَا سُمِّيَتْ فَاطِمَةُ لِاَنَّ اللهَ فَطَمَهَا وَمُحِبِّيْهَا عَنِ النَّارِ'' ترجمه: د دې (يعنې زما د لور) نوم فاطِمه دې وجې نه کېښودلے شو چې الله پاک دا او د دې سره محبت کوونکي د دوزخ نه ازاد کړي دي- (کنز العمال، 50/12، حدیث:34222)

## ﴾2﴿ د اِنسان پهٔ شکل کښې حوره

'' زما لور فاطِمه د انسان پهٔ شکل کښې د حورو پهٔ شان د حَيض او نِفاس نه پاکه ده-''

(کنز العمال، 50/12، حدیث: 34221)

## ﴿3﴾ څۀ چې د دې خوښ هغه زما خوښ

” فاطِمه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا) زما د وجود حصه (ټوټه) ده، څۀ چې د دې بدي شي هغه زما هم بدي شي ، څۀ چې د دې خوښ دي هغه زما هم خوښ دي، د قيامت پۀ ورځ به زما د نَسَب ، زما د سبب او زما د ازدواجي رشتو نه علاوه ټول نسبونه ختم شي-“

(مستدرک للحاکم ،4/144، حدیث:4801)

## ﴿4﴾ د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا رضا او ناراضګي

” ستا (يعني د حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا) د ناراضتا سره الله پاک ناراضه کيږي او ستا د رضا سره الله پاک راضي کيږي -“ (مستدرک للحاکم ،4/137، حدیث: 4783)

## ﴿5﴾ د جنّتي زنانؤ سرداره

فاطِمه (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا) زما ټوکړه ده چا چې دا ناراضه کړله هغۀ زۀ ناراضه کړم- او پۀ يو روايت کښې دي، د دې پريشاني زما پريشاني او د دې تکليف زما تکليف دے-

(مشکاۃ المصابیح ،2/436، حدیث :6139)

سیِّدَہ، زاہِرہ، طیِّبہ، طاہِرہ
جانِ احمد کی راحت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش 309)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## پخير راغلې زما لورې!

د حَسَنَين کَرِيمين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهما نيکه بابا جان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپلې شهزادګۍ حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا سره بے حده محبت کولو، پۀ حديثِ پاک کښې دي چې کله به هغې تشريف راوړلو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پۀ ” مَرحَباً بِابنَتِی يعني پخير راغلې زما لورې!“ سره دهغې هر کلے کولو او د ځان سره به يـې کښينوله- (بخاری، 2/507، حدیث: 3623)

## شان د حضرت بي بي فاطمه پۀ ژبه د حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہما

د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت بي بي عائِشه صِدِّيقه، طيِّبه، طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: ما پۀ کړۀ وړۀ، شکل او صورت او خبرو کښې د بي بي فاطِمه (رَضِیَ اللہُ عَنْہا) نه زيات څوک د حضورِ اَکرَم (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) پۀ شان نۀ دي ليدلي او چې کله به حضرت فاطِمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې حاضريدله نو حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغې د هر کلي د پاره ودريدلو، د هغې لاسونه به يې نيول او ښکلول به يې او پۀ خپل ځائے باندې به يې کښينوله او چې کله به حضورِ پر نُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بي بي فاطِمه خوا له تشريف وړلو نو هغۀ به (هم) د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تعظيم د پاره ودريدله او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک لاسونه به يې نيول او ښکلول او پۀ خپل ځائے باندې به يې کښينولو- (ابو داؤد، 454/4، حديث: 5217) حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي چې ما د حضرت فاطِمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا نه رښتوني د هغې د والد نه علاوه بل څوک نۀ دي ليدلي-

(مسند ابی یعلیٰ، 192/4، حديث: 4681)

رسولُ اللہ کی جیتی جاگتی تصویر کو دیکھا | کِیا نظارہ جن آنکھوں نے تفسیرِ نُبوّت کا

(دیوانِ سالِک، ص33)

کاش چې د سيِّده بي بي فاطِـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا سره محبت او عقيدت لرونکي هم سُنَّت اختيار کړي او خپله ناسته پاسته، اغوستل سملاستل د سُنَّتو مطابق کړي- اے کاش! پۀ کروړونو کرته کاش چې مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو نمونه جوړه شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا عبادت

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے، د حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ او د حضرت فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د زړهٔ ټوټه حضرت اِمامِ حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما خپله مور بي بي حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا وليدله چې د شپې به يې په مسجدِ بيت (يعني پهٔ کور کښې د نـمونځ د پاره پهٔ جوړ کړے شوي د خاص ځائے) پهٔ محراب کښې نـمونځ کولو تر دې پورې چې د سحر د نـمونځ وخت به شو، هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا به د نارينؤ او زنانؤ مسلمانانو د پاره ډيرې زياتې دعاګانې کولې- (مدارج النبوت مترجم، 543/2)

## د جُمعې پهٔ ورځ د مازديګر نه پس دُعا

حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا به د جُمعې پهٔ ورځ د مازديګر نه پس پخپله پهٔ حجره کښې کښيناستله او خپله خادِمه فِضَّه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا به يې بهر ودروله، چې کله به نمر پهٔ پريوتو شو نو خادِمې به هغهٔ خبروله، د هغې پهٔ خبرولو به سيّده رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا خپل لاسونه د دُعا د پاره پورته کول- (مرأة المناجيح، 320/2)

## دُعا قبليږي

د حسنين کريمين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما د نيکه بابا جان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پهٔ جُمعه کښې يو داسې سعت دے چې که يو مسلمان هغه بياموې او هٰغه وخت د الله پاک نه څهٔ وغواړي نو الله پاک به يې هغهٔ له ضرور ورکړي او هٰغه سعت مختصر دے- (مسلم ص 330، حديث: 1973)

## د صاحبِ بهارِ شريعت اِرشاد

حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د دعا د قبليدو د وختونو پهٔ باره کښې دوه قولونه مضبوط دي: ﴿1﴾ د اِمام د خطبې د پاره د کښيناستو نه تر د نـمونځ ختميدو پورې ﴿2﴾ د جُمعې اخري سعت-

(بهارِ شريعت 754/1، حصه: 4)

## د کونینو د شهزادګۍ رَضِیَ اللہُ عَنۡہا وادهٔ مبارک

د خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نکاح مبارکه پهٔ دویمه هجرۍ صفر یا رجب شریف یا پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې وشوه۔

(اتحاف السائل للمناوی، ص 33)

## مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ له یـې کور پهٔ تحفه کښې ورکړو

د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت عليُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کور د نبي رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کور نه لرې وو، ځکه صحابيِ رسول حضرت حارثه بن نعمان رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کور مبارک سره نزدې خپل یو کور حضرت علي او فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہما ته پیش کړو۔ (طبقات لابن سعد، 19/8 ملخصاً)

چې کله د حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د واده وخت راغلو نو د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت بي بي عائشه صِدّیقه او حضرت بي بي اُمِّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہما د بَطحا دَرې نه خاوره راوغوښتله او د هغوئې کور مبارک یـې د لاندې نه لِیو کړو بیا یـې پهٔ خپلو لاسونو د کجورو د پاڼو او پوستکو نه دوه ګدې تیارې کړې، د هغوئې د خوراک د پاره یـې کجورې او وَسکې کېښودلې او د څښلو د پاره یـې د یخو اوبو انتظام وکړو، بیا یـې د کور پهٔ یو ګوټ کښې د لرګي یوه ستَن ودروله چې مشک او جامې وغیره ورته زوړندولے شي، بیا یـې وفرمائیل: مونږه د فاطِمه (رَضِیَ اللہُ عَنۡہا) د واده نه بهتر واده اونه لیدلو۔ (ابن ماجه، 444/2، حدیث: 1911 ملخصاً)

## جهیز مبارک

د کونینو مالِک، د حسنین کریمین رَضِیَ اللہُ عَنۡہما نیکه بابا جان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله د خپلې خوږې او نازبینې شهزادګۍ حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نکاح وتړله نو د بعضو روایتونو مطابق د هغې پهٔ مبارک جهیزکښې یو څادر، د کجورو د پوستکو نه ډکه کړے شوې یوه تکیه، یوه پیالۍ، دوه منګې او د دانو وړهٔ کولو دوه میچنې وې۔ (مسند امام احمد، 223/1، حدیث: 819۔ معجم کبیر، 137/24، حدیث: 365)

## د سیِّده رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاد واده نه پس مبارک ژوند

د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: د کور کارونه (مثلاً میچن کول، جارو وهل او د اخلي پخلي کار وغیره) به حضرت فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا کولو او د بهر کارونه (مثلاً د بازار نه سودا راوړل، اوښ اوبه کول وغیره) به ما کول۔ (مصنف ابن ابی شیبه، 157/8، حدیث: 14)

حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہابه زما سره په خپل لاس باندې میچن کوله چې له وجهې به یـې په لاسونو کښې تخښې وشوې او پخپله به یـې مشک راډکولو او راوړلو او په کور کښې به یـې جارو وغیره هُم پخپله وهله۔ (ابوداؤد410/4، حدیث:5063)

د الله پاک په عطا سره د دواړو جهانو د مالِک او د مختار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شهزادګۍ حیثیت لرلو باوجود هم حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہادیر په سادګۍ سره ژوند مبارک تیر کړو۔ د هغې سره هم یوه بستره وه او هغه هم د ګډ یوه څرمن وه، کوم چې به یـې د شپې غوړوله او ارام به یـې پرې کولو بیا به یـې سحر هم په هُغه څرمن باندې ګیا دانه اچوله او د اوښ د خوراک انتظام به یـې کولو او په کور کښې یـې څهٔ خادِم هم نهٔ وو۔ (طبقاتِ لابن سعد، 18/8)

## خوابښې او اینګور

د کونړینو شهزادګۍ حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاد خپلې خوابښې (یعني د مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د مور بي بي حضرت فاطِمه بنتِ اسد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا) په عملي طور خدمت کولو د نن سبا اینګیائیندو ته یې د خوابښې سره د ښه سلوک کولو ښکلے مثال عطا کړلو، د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د هغې د نورو خوبیانو سره سره دا (یعني د خوابښې سره ښه سلوک کولو) هم مُعترِف (اقرار کوونکے)وو لکه څنګه چې حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خپلې مور بي بي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاته وفرمائیل: ” حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہابه تا د کور د کارونو نه بے پروا کړي۔“

(الاصابة، 269/8 ملخصاً)

اے د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم عاشقانو! د ګونَينو د شهزادګۍ حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہامبارک ژوند خاص طور زمونږه د اِسلامي خوئيندو د پاره د پيروۍ لائق دے، که د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہاپهٔ نقشِ قدم باندې لاړې شي او زمونږه اِسلامي خوئيندې سادګي اختيار کړي نو پهٔ کم امدن کښې هم کور چليدے شي لکه څنګه چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږې شهزادګۍ حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا وچلولو- که داسې اينګور د خوابنې سره د خپلې مور پهٔ شان سلوک وکړي، د الله پاک د رضا د پاره د هغې پهٔ غمونو کښې شريکه شي نو کور د امن نه ډکيدے شي بلکې "اينګور" به پهٔ سخرګنې کښې "شهزادګۍ" وي- که د سيِّده فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا پهٔ نقشِ قدم باندې لاړې شي او زمونږه اِسلامي خوئيندې د شريعت او د سُنَّت مطابق د سُنَّتو ډک، د نيکو ډک، د عبادت او د رياضت والا ژوند تير کړي او خپلو بچو ته هم د دې مطابق د تللو ترغيب ورکړي نو اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیم! د دوئي پهٔ غيږه کښې لوئيدونکے اولاد به هم د اهلِ بيت او د حسنينِ کريمين رَضِیَ اللہُ عَنۡہما رښتوني محبت کوونکي او غلامان جوړ شي- اے کاش چې زمونږه پهٔ حقيقي معنو کښې د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہاپهٔ نقشِ قدم باندې تلل نصيب شي- چا ډير ښه وئيلي دي:

چُوزَہرا باش اَز مخلوق رُوپوش　　　　که دَر آغوش شبِّیرے بہ بِینی

يعنې د حضرت بي بي فاطِـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہاپهٔ شان پرهيزګاره او پرده داره جوړه شهٔ چې پهٔ خپله غيږه کښې د حضرت شبّير، امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ شان اولاد ووينې-

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د طرف نه د واده پهٔ موقع ناوې ته د ورکړے شوي خط څهٔ حصه

الله پاک دې تاسو پهٔ دواړه جهانه ښاد او اباد لري، ستاسو خوشحالۍ دې اوږدې کړي، الله پاک دې تاسو د مدينے منورې مبارکې د سدا بهار ګلونو پهٔ شان هميشه په

مُسکه لري، ستاسو بیماری، پریشانی، کورنی جګړې، تنګدستي ، قرضونه دې ختم کړي، د واده نه پس ژوند مو دې ښه تیر شي، پۀ صالح اولاد سره مو دې غیرہ ډکه شي، بیا بیا مو دې حج نصیب شي او ښکلې مدینه منوره مو دې لیدل نصیب شي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دا پینځه مَدَني ګلونه د خپل زړۀ پۀ مَدَني ګلدسته کښې کیږدئ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! کور به مو د امن نه ډک وي: ﴿1﴾ د خواښې او ایندروریانو سره پۀ یوحالت کښې هم مۀ ورانیږئ ، د دوئي ښه پوره خِدمت کوئ- که هغوئي درپسې تهوقې کوي نو خاموشه پاتې کیږئ- ﴿2﴾ خواښې که درته فرض کړه خبرې کوي نو خپله مور پۀ تصور کښې راولئ چې هغۀ مې رَټي نو صبر کول به درته اسان شي- اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ﴿3﴾ تاسو که چرې د خواښې پۀ غصه کیدو باندې پۀ جواب کښې غصه وکړه نو بیا به درته ''ګُزاره'' ګرانه شي- ﴿4﴾ د سخرګنی''د خراب سلوک'' فریاد د خپل مور پلار پۀ کور کښې کول د مخکښې راتلونکې تباهۍ هر کلے کول دي- ځکه د صبر سره سره پۀ دې اُصولو باندې عمل کوئ چې '' یوه خاموشي سلو (100) '' ته شکست ورکوي، پۀ جواب کښې ورته صِرف د خیر دُعا کوئ- ﴿5﴾ عام طور نن سبا د سخرګنۍ د طرف نه پۀ اینګور باندې '' جادو کوي، خپل خاوند یې قابو کړے دے'' وغیره وغیره الزامونه لګولے شي، خُدائے دې نۀ کړي که چرې ستا سره داسې معامله وشي نو د غصې کولو پۀ ځائے د حکمت او ډیرې نرمۍ نه کار واخلئ- خپله کمره د ورځې بنده مۀ ساتئ، د کور د نورو خلقو پۀ موجودګۍ کښې د خپل خاوند سره'' پټې خبرې'' مۀ کوئ- د خپل خاوند پۀ موجودګۍ کښې هم چائے وغیره د خپلې خواښې یا ایندرور سره څښئ- د هغوئي پۀ مخکښې چرې هم تندے مۀ راچوئ، د غصې ویستو د پاره لوښے پۀ تیزه مۀ ږدئ- بچي داسې مۀ رټئ چې د هغوئي پۀ زړۀ کښې وسوسه راشي چې مونږ ته یې اوروي او رټي مو- د وینځلو او پخولو پۀ کار کښې د صفایۍ نه کار اخلئ، مطلب دا دے چې ګند پۀ ګند سره (یعنې الزام پۀ هنګامه باندې) د پاکولو پۀ ځائے (د حکمت

او د ښو اخلاقو پهٔ) اوبو باندې پاکيدے شي- داسې بهٔ تاسو اِنۡ شَآءَاللهُ الۡكَرِيم! د خپلې سخرګنۍ د سترګو تور شئ او ژوند به مو ښه تيرېږي، د سخرګنۍ پهٔ حق کښې د دعا نه مهٔ غافله کيږئ چې پهٔ دعا باندې غټې غټې مسئلې حل کيږي- د روژې او د نـمونځ پابندي کوئ، د شرعي پردې خيال ساتئ- ياد ساتئ چې د کشر او مشر ليور نه هم پرده ده- پهٔ خپل کور کښې د "فيضانِ سُنَّت" درس جاري کړئ- د خاموشئ عادت جوړ کړئ چې د ډيرو خبرو کولو سره د جګړې انديښنه زياتيږي- د فيشن پرستۍ پهٔ ځائے د سُنَّتو لاره اختيار کړئ چې پهٔ دې کښې خير دے- ما ګنهګار ته د غمِ مدينه و بقيع و مغفرت دعاګانې کوئ- که ستاسو زما دا خط خوښ شي نو دا پهٔ پلاسټک کښې بند کړئ او خُدائے دې نهٔ کړي که چرې پهٔ کور کښې جګړه وي نو دا لولئ- وَالسَّلامُ مَعَ الۡاِكۡرَام

(سنّتِ نکاح، ص58 بتغیر)

مَدَنی بیٹی کا خدایا گھر سَدا آباد رکھ ‌‌ ‌ فاطمہ زَہرا کا صدقہ دو جہاں میں شاد رکھ

(وسائلِ بخشش، ص680)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت بي بي فاطِمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا مبارک اولاد

د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا درې شهزادګان: ﴿1﴾ حضرت اِمام حَسَن مُجْتَبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ، ﴿2﴾ حضرتِ اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ او ﴿3﴾ حضرتِ مُحَسِّن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ او درې شهزاګۍ: ﴿1﴾ حضرتِ سيّدَه بي بي زينب رَضِیَ اللہُ عَنۡہا، ﴿2﴾ حضرتِ بي بي رُقَيَّه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا او ﴿3﴾ حضرت بي بي اُمِّ کُلثوم رَضِیَ اللہُ عَنۡہا وې- (شانِ خاتونِ جنت، ص256 تا 263 ملخصاً) (اجمال ترجمه اکمال، ص72) حضرت مُحَسِّن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ او شهزادګۍ حضرت بي بي رُقَيَّه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا پهٔ ماشومتوب کښې وفات شوي وو ځکه د تاريخ او د سيرت پهٔ کتابونو کښې د دوئي ذِکر شريف ډير کم ميلاوېږي-

## د ګونَينو د شهزادګۍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور ته راتګ

صحابي رسول حضرت عبدُ الله بن عُمَر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهما فرمائي: نبي اَکرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د سفر اراده فرمائيله نو د ټولو نه پۀ اخره کښې به يـې د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها سره ملاقات فرمائيلو او چې کله به يـې د سفر نه واپس تشريف راوړلو نو د ټولو نه مخکښې به يـې د حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها سره ملاقات فرمائيلو- (مستدرک للحاکم، 141/4، حديث:4792)

## د بي بي فاطِمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها د پاره د رحمت دُعا

نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د نـمونځ د پاره تشريف راوړلو او پۀ لاره کښې به د حضرت سيّده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها د کور پۀ خوا راتيريدلو او پۀ کور کښې به يـې د ميچن ګرځيدو اواز اوريدلو نو پۀ بارګاهِ ربُّ العزّت کښې به يـې دعا کوله: يَااَرحَمَ الرَّاحِمِين! فاطِمه (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها) ته رياضت او قناعت او جزائے خير عطا کړې او دې ته د غريبۍ پۀ حالت کښې د ثابت قدم اوسيدو توفيق ورعطا کړې-

(سفينۀ نوح، حصّه دُوُم، ص35)

## د محبت نه ډک منظر او د محبتونو نه ډک جواب

د مسلمانانو خلورم خليفه حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو ځل پۀ بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو ته هغۀ (حضرت بي بي فاطِمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْها) زما نه زياته ګرانه ده که زۀ؟ نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ښکلے جواب ارشاد کړو: هغۀ ما ته ستا نه زياته او تۀ د هغې نه زيات ګران يـې-

(مسند حميدی، 22/1، حديث: 38)

# د حضرت عائشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا رښتينولي

اے د صحابۂ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم عاشقانو! حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا او ټول اُمَّهات المُؤمِنين (يعنې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاکې بيبيانې کومې چې د ټولو مسلمانانو خوږې مئيندې دي) به د يوې بلې سره محبت فرمائيلو لکه څنګه چې يوه واقعه ده: حضرت جُمَيع بن عُمَير تَيمي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: زۀ د خپلې [پلار د طرفه د] ترور سره د حضرت بي بي عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پۀ خدمت کښې حاضر شوم نو هغې ته عرض وکړے شو: د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څوک ډير خوښ وو؟ اوئې فرمائيل: فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا، بيا عرض وکړے شو: پۀ نارينۀ کښې؟ اوئې فرمائيل: د هغې خاوند، تر څو پورې چې ما ته معلومه ده هغۀ ډيرې زياتې روژې نيوونکے او پۀ کثرت سره قيام کوونکے دے- (ترمذی، 468/5، حدیث:3900)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اهلِ بيتِ کرامو او د صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره رښتونے محبت کوونکے او عاشق وو، هغوئي پۀ ډيرو تحريراتو کښې د حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا شان او عظمت بيان کړے دے بلکې هغوئي د سيِّده رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا مناقِب هم ليکلے دي - کيدے شي چې د هغې د برکتونو نتيجه وه چې د حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا او د مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د وِصال تاريخ هم يَو (يعنې دريم رَمَضَانُ المُبَارَک) دے- حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ترمذي شريف د بيان کړے شوي حديثِ پاک پۀ شرح کښې ليکلي دي: دا ده د حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا حق وئيل، چې هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا دا اونه فرمائيل چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زياته "زۀ" خوښه ووم او زما نه پس يـې زما والد بلکې څۀ چې د هغې پۀ عِلم کښې وو هغۀ يـې صفا صفا ووئيل که هم دغه پوښتنه د حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَّهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا نه شوې وه نو هغې به فرمائيل چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زياته خوښه حضرت عائشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا وه بيا د هغې والد- معلومه شوه چې د هغوئي زړونه بالکل صفا سوترا وو- پۀ هغوئي باندې ډير

افسوس دے څوک چې دې حضراتو ته د يو بل دښمنان وائي- ياد ساتئ چې د محبت ډير قِسمونه دي او د محبوبيت نوعيتونه مختلف دي، پهٔ اولاد کښې ورته د ټولو نه ګرانه حضرت فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ده، پهٔ وروڼو کښې د ټولو نه ګران علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے او پهٔ پاکو بيبيانو کښې ورته د ټوله نه ګرانه حضرت عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ده-

(مرأة المناجيح، 469/8)

اُس مبارک ماں پہ صدقہ کیوں نہ ہوں سب اہلِ دیں
جو ہو اُمُّ المؤمنیں بنتِ امیر المومنیں
کیا مبارک نام ہے اور کیسا پیارا ہے لقب
عائشہ محبوبۂ محبوبِ ربِ العالمین

(دیوانِ سالک، ص 83)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د حضرت عائِشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا سره د محبت حکم

نبي رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ورځ خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ته وفرمائيل: اے زما لورې! آيا تهٔ به د هغې سره محبت نهٔ کوې د کومې سره چې زهٔ محبت کووم؟ هغې پهٔ جواب کښې عرض وکړو: ولې نهٔ- رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: نو د دې (يعني حضرت عائِشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا سره) محبت کوه-

(مسلم، ص 1017، حديث: 6290)

آیۂ تطہیر میں ہے ان کی پاکی کا بیاں ہیں یہ بی بی طاہرہ شوہر امامُ الطاہریں

## تسبيحِ فاطِمه

د خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا پهٔ مبارکو لاسونو باندې د ميچن کولو پهٔ وجه پوناقې (پولئ) راختلې وې کومې چې به د درد وجه جوړيدله، يو ځل حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا د خادم اخستو د پاره بارګاهِ رسالت ته

حاضره شوه خو د نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يې ملاقات اونه شو، البته د حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا سره يې ملاقات وشو او هغې ته يې خپل مقصد بيان کړو، چې کله نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور ته تشريف راوړلو نو حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د راتللو نه خبر کړو- حضور نبي رحمت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلې د زړۀ ټوټې خوا له تشريف يوړلو او ارشاد يې وفرمائيلو؛ آيا زۀ تا ته د داسې عمل پۀ باره کښې اونه وايم کوم چې ستا د سوال نه بهتر وي! چې کله تۀ اوده کيږې نو 33 کرته سُبحٰنَ الله، 33 کرته اَلْحَمْدُ لِلّٰه او 34 کرته اَللّٰهُ اَكْبَر وايه، دا ستا د پاره د خادم نه بهتر دي- (بخاری، 536/2، حديث: 3705 مفهوماً)

حضرت علّامه بَدرُ الدِّين محمود عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يا خو الله پاک د دې تسبيح لوستونکې ته داسې طاقت عطا کوي د کوم نه پس چې د هغۀ د پاره ګران کارونه اسان شي او هغۀ ته د خادم ضرورت نۀ پيښيږي يا بيا د دې تسبيح د اخرت ثواب پۀ دُنيا کښې د خادِم د خدمت د فائدې نه زيات بهتر دے-

(عمدة القاری، 374/14، تحت الحديث: 5361 ملخصاً)

د مسلمانانو خلورم خليفه، حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: " د دې نه پس ما دا وظيفه چرې هم نه ده پريښودې-" (سنن الکبری للنسائی، 204/6، حديث: 10652) دې ته "تسبيح فاطِمه" وئيلے شي او پۀ سلسلۀ عاليه قادريه کښې پۀ دې باندې د عمل کولو خاص ترغيب ورکړے کيږي، مونږ له هم پۀ خپل ژوند کښې د څۀ نا څۀ د اَورادو او وظيفو معمول جوړول پکار دي چې دا پۀ روحاني او جسماني لحاظ سره ډيرې فائدې مندې دي-

## د پردې علامت

د سيِّده خاتونِ جنَّت، د کونينو د شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمةُ الزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا د پردې هم څومره ښکلے شان دے بلکې هغۀ د داسې عظمت او شان والا ده چې د هغې ذات مبارک، د هغې مبارک نوم د حيا او د پردې علامت جوړ شوے

دے- لوئي لوئي عالمان او مَشائِخ (کَثَّرَھُمُ اللّٰہ يعني الله پاک دې د دوئي شميره نوره هم زياته کړي) چې کله د پردې په باره کښې دعا کوي نو داسې عرض کوي: يا الله پاکه! زمونږ د اینګیائیندو او لونړو د "سیّده زهره" د پردې صدقه نصيب کړې-

## د زنانه د پاره خير

د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادِم حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل نبي رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه چې " د زنانؤ د پاره په کوم څيز کښې خير دے؟" صحابهٔ کرام عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان فرمائي: " مونږ ته نهٔ وه معلومه چې مونږه څهٔ جواب ورکړو؟" حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د حضرت فاطِمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا خوا له تشریف یوړلو او هغې ته يــې په دې باره کښې ووئيل نو هغې وفرمائيل: " تاسو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا عرض ولې اونه کړو چې د زنانؤ د پاره خير په دې کښې دے چې هغهٔ (غير مَحرمه) نارينؤ ته اونه ګوري او نهٔ (غير مَحرمه) نارينه هغې ته وګوري-" نو حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او دا خبره يــې بيان کړه، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: " دا خبره تا ته چا وکړه؟" عرض يــې وکړو: " فاطِمه-" نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: "فاطِمه زما د ځيګر ټوټه ده-" (حلیۃ الاولیاء، 50/2، رقم: 1444۔ موسوعۃ لابن ابی الدنیا، 97/8، حدیث: 412)

## په جنازه باندې د پردې خيال

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت مولیٰ علي مُشکِل کُشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: " حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا د وفات کيدو په وخت وصيت کړے وو چې کله زهٔ د دُنيا نه رخصت شم نو ما د شپې دفن کړئ چې د کوم نا محرمه نارينه نظر زما په جنازه باندې هم نهٔ پريوځي-" (مدارج النبوۃ، 461/2)

د سيدهٔ کائنات، خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا سره دا انديښنه وه چې په ژوند کښې خو مې د نامحرمه نارينؤ د نظر نه ځان بچ ساتلے دے

بيا چرته د وفات نه پس زما پۀ جنازه باندې د خلقو نظر وه نۀ لګي! پۀ يوه موقع باندې حضرت بي بي اَسماء بنتِ عُمَيس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاعرض وکړو: ما پۀ حَبَشه کښې ليدلي دي چې پۀ جنازه باندې د وَنې ښاخونه تړي او د يوې ډولۍ پۀ شکل يــې جوړوي او پۀ هغې باندې پرده غوړوي- بيا هغې د کجورو ښاخونه راووغښتل او هغه يــې د يو بل سره وتړل او پۀ هغې باندې يــې کپړه خوره کړه او سيِّده خاتونِ جنَّت رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاته يــې وښودله پۀ کومې چې حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاډيره خوشحاله شوه- (جذب القلوب، ص159 ملخصاً)

## د اِسلام وړومبۍ زنانه

حضرت علاّمه اِبنِ عبدُ البَر رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: پۀ اِسلام کښې سيِّده، طيِّبَه، طاهِره، حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا" وړومبۍ زنانه" ده د کومې د جنازې مبارکې د پټولو چې داسې خيال ساتلے شوے وو- (سيَر اعلام النبلاء، 431/3)

حضرت علاّمه مولانا مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: ياد ساتئ چې (د قيامت پۀ ورځ به) پاکې بيبيانې او حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہاپۀ پرده کښې پاڅي چې هغوئي پۀ خاص اولياءَ الله کښې داخلې دي- (مرأة المناجيح، 369/7، ملتقطاً)

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د اِسلامي خوئيندو د پوهه کولو د پاره ليکلي دي:

اے مری بہنو! سدا پَردہ کرو　　تم گلی کُوچوں میں مَت پھرتی رہو

اپنے دیوَر جیٹھ سے پَردہ کرو　　ان سے ہر گز بے تکَلُّف مَت بنو

(وسائلِ بخشش، ص 714)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## غمِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خاتونِ جنَّت حضرت بي بي فاطـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہابه د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بے حده محبت فرمائيلو ځکه د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمپۀ رحلت فرمائيلو هغې

ته ډير زيات غم ورسيدلو، د کومې اظهار چې به هغې داسې کولو: (د حضورِ اکرم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ رحلت فرمائيلو باندې) چې کوم غم ما ته رارسيدلے دے که هٰغه غم پۀ "ورځو" باندې راغلے نو هغه به "شپه" شي۔

(مرقاة المفاتيح، 305/10، تحت الحديث:5961)

## وفات شريف او غسل شريف

د الله پاک د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحلت شريف نه 6 مياشتې پس پۀ دريم رَمَضَانُ الْمُبَارَک کال 11 هجری د شروع پۀ شپه سيّده، طيّبه، طاهره حضرت بي بي فاطِـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د 28 کالو پۀ عمر کښې رحلت وفرمائيلو۔ حضرت بي بي فاطِمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا له پۀ غسل ورکوونکو زنانو کښې د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کور وداني محترمه حضرت بي بي اسماء بنتِ عُمَيس رَضِیَ اللهُ عَنْهَا هم شامله وه او هغې ته د غسل ورکولو وصيت پخپله سيّده فاطِمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا کړے وو۔ (سنن کبریٰ للبيهقي، 56/4، حديث:6930)

## جنازه او خاورو ته سپارل

د حضرت سيّده خاتونِ جنَّت بي بي فاطِـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا جنازه چا وکړه، پۀ دې باره کښې مختلف روايتونه دي، د يو روايت مطابق حضرت علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ او د يو روايت مطابق حضرت عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغې جنازه وکړه، خو پۀ ډيرو روايتونو کښې دي چې د حضرت بي بي فاطِـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا جنازه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وکړه۔ (سنن کبریٰ للبيهقي، 46/4، حديث: 6896)

## د حضرت بي بي فاطِـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د مزار پۀ باره کښې دوه روايتونه

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: د حضرت بي بي فاطِـمۃُ الـزَهراء رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د مزار شريف پۀ باره کښې دوه روايتونه دي:

﴿1﴾ پۀ بقيع شريف کښې ﴿2﴾ خاص د روضې مبارکې سره (د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مزار شريف سره)-

يو عاشقِ رسول د مدينے منورې يو عالِم صاحب ته عرض وکړو: زۀ دواړو ځايونو ته حاضري کووم او سلام عرض کووم او " انوار" بياموم- هغوئي وفرمائيل: دا کريم ذاتونه د ځايونو پابند نۀ دي، ستاسو توجه پکار ده بيا نُور وروِل د دوئي کار دے-
(فتاوىٰ رضويه، 432/26)

## پۀ پلِ صِراط باندې اِعلان

د اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " چې کله د قيامت ورځ شي نو يو اعلان کوونکے به اعلان کوي: اے راجمع شوو خلقو! خپل نظر ښکته کړئ! د پاره د دې چې فاطِمه بنتِ مُحَمَّدِ مصطفٰے (رَضِیَ اللہُ عَنْہا) پۀ پلِ صِراط تيره شي-"
(جامع صغير، 945/1، حديث: 228)

د بعضو روايتونو مطابق د قيامت پۀ ورځ باندې به د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکه اوښه د کومې نوم چې " عَضبَاء" دے، حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا به د حشر پۀ ميدان کښې پۀ دې باندې ناسته وي او تشريف به راوړي- د الله پاک دې پۀ حضرت بي بي فاطـمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا باندې رحمت وي او د هغې پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- (سبل الهدىٰ والرشاد، 63/11)

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

آبِ تطہیر سے جس میں پودے جمے ... اس ریاضِ نجابت پہ لاکھوں سلام
(حدائقِ بخشش، ص 309)

## د لسو بيبيانو قيصه

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ فرمائي: " د لسو بيبيانو قيصه، د شهزاده سر او د

جنابِ سیّده قیصه" دا تړلي د ځانه جوړې کړے شوې دي، د دې هیڅ شرعي حیثیت نشته، د دې لوستل او د دې منښته کول ناجائز دي- که څۀ لوستل وي نو يٰسٓ شریف دې ولوستلے شي، پۀ دې باندې به هم هغه همره وخت لګي څومره چې پۀ دغه قیصو باندې لګي بلکې د دې نه به پرې هم کم وخت لګي، بیا د دې برکتونه هم دي او فضائل هم- پۀ حدیثِ پاک کښې دي چې یو ځل پۀ يٰسٓ شریف لوستلو باندې د 10 قرآنِ پاک ثواب میلاؤېږي- (ترمذی، 4/406،حدیث: 2896) د معلوماتو د کمي پۀ وجه د دې قیصو رواج جوړ شوے دے- (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 3/272)


صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب پۀ نیت باندې چا له ورکړئ

د غم ښادۍ پۀ دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د میلاد پۀ جلوسونو وغیره کښې د مکتبة المدینه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسیم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پۀ نیت پۀ تحفه کښې د ورکولو د پاره پۀ خپلو دکانونو کښې د رسالو کیښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرڅوونکو پۀ ذریعه د خپلې محلې کور کور ته د میاشتې کم از کم یوه د سُنّتو نه ډکه رساله یا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نیکۍ دعوت عام کړئ او ښه ډېر ثواب وګټئ- (فتاویٰ رضویه، 10/445)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ.
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net